د سمدستي خپلوي لپاره
د ۲۰۱۷ کال جنوري۲۴مه نېټه
د امریکا نړیوالې پراختیايي اداره
د عامه اړیکو څانګه
شمېره: ۰۷۰۲۶۳۶۳۴۰
برېښنالیک: KblAIDDoc@usaid.gov
ویبپاڼه:www.usaid.gov/afghanistan

مطبوعاتي اعلاميه

ښځينه افغان انجنيرانو او مهندسانو د امريکا نړيوالې پراختيايي ادارې کار زده‌کړې پروګرام څخه فارغ شوي

کابل ، افغانستان—نن د امریکا نړیوالې پراختیايي ادارې(USAID)افغان ښځو انجینري او مهندسي له کار زده‌کړې پروګرام څخه د اوښځینه انجنیرانو او مهندسانو فراغت ولمانځه. دغه پروګرام په ۲۰۱۱ کال کې د امریکا نړیوالې پراختیايي ادارې له خوا پیل شو چې تر اوسمهاله یې ۲۳ ښځینه زده‌کوونکې فارغ کړي دي.

د امریکا نړیوالې پراختیايي ادارې دغه پروګرام د کابل پوهنتون او پولیتخنیک پوهنتون مهندسي ، ساختماني(سول) ، او میخانیکي انجنیرۍ ښځینه زده‌کوونکو ته د کار زده‌کړې موکې چمتو کوي. د کار زده‌کړې پروګرام په لړ کې ښځینه زده‌کوونکو ته د انجنیري او مهندسي عملي کارونو ارخوږه وښودل او د مسلکي او خپلمنځي مهارتونو پیاوړي کولو لپاره ورته موکې چمتو شوې وې.

د امریکا نړیوالې پراختیايي ادارې رئیس ښاغلي هربرټ سمیټ وویل «د کار زده‌کړې دغه پروګرام اغیزې به د زده‌کوونکو د فراغت نیټې څخه وروسته لاپسې روښانه شي.» ښاغلي سمیټ زیاته کړه «مور په افغانستان کې د بریالیو او ماهرو ښځو یو داسې شبکه جوړوو ، چې په انجنیري او معماري برخو کې به د افغانو ښځو لپاره د یو ځواکمن راتلونکي رامنځته کول او د افغانستان راتلونکي وده ښارولو لپاره کار وکړي.»

د کار زده‌کوونکو ته د ډیزاین او ګډو هڅو ، د کار ساحې څخه لیدنې ، پروګرام مدیریت ، او د پروژو پلي کولو موکې چمتو شوي. سربیره پر دي هغوی سره مرسته وشوه او وهڅول شوې چې د خپل مسلک په بنسټ شته کاري فرصتونو ته غوښتنلیکونه واستوي. د یو کال کار زده‌کړې پروګرام پای ته رسولو وروسته ۷ تنه یې د امریکا نړیوالې پراختیايي ادارې پروګرامونو له خوا په کار وګمارل شوې. نورې یې هم یا په کار بوختې دي یا خپل لوړې زده‌کړې پرمخ بیایي ، چې د هغو ډلې څخه یو څو تنه د افغانستان څخه بهر په کار بوختې دي.

د کابل پولیتخنیک پوهنتون محصلینو چارو مرستیال ښاغلي محمد الله ابراهیمي ، د انجینریانجنیري او مهندسي ښځینه زده‌کوونکو ته د کار زده‌کړې موکو برابرولو لپاره د امریکا نړیوالې پراختیايي ادارې څخه مننه وکړه.

د امریکا نړیوالې پراختیايي ادارې د کار زده‌کوونکې لیخا احمدي وویل «د کار زده‌کړې پروګرام ما سره مرسته وکړه چې په‌خپل مسلک کې کار کولو لپاره یو روښانه لید لوری ترلاسه کړم.»

د امریکا نړیوالې پراختیايي ادارې(USAID)افغان ښځو انجینري او مهندسي کار زده‌کړې پروګرام به د ۲۰۱۹ کال پورې دوام وموم. دغه پروګرام به ښځینه زده‌کوونکو ته حیاتي موکو برابرولو ته دوام ورکړي ترڅو هغوي وتوانوي چې د افغانستان حکومت ، تشبثاتو او د مدنې ټولنې فعاله راتلونکي رهبرانې شي.

###

د ۲۰۰۲ کال راهیسې په افغانستان کې پراختیايي پروګرامونو باندې د ۱۷ میلیاردو ډالرو څخه ډیرو پیسو لګولو سره ، د امریکا نړیواله پراختیايي اداره افغانستان ته د ټولو څخه لوی دوه اړخیزه ملکي مرستندویه پروګرام وړاندې کوي. د امریکا نړیواله پراختیايي اداره د افغانستان حکومت او ولس سره ملګرتیا کوي ترڅو د هیواد خصوصي سکتور په مشري اقتصادي ودهتضمین ،یو دیموکراتیک او ځواکمن دولت چې د قانون حاکمیت له لوري حکومت وکړي رامنځته ، او ټولو افغانانو ته لمړني روغتیايي او پوهنیز خدمتونه چمتو کړي.

د آمریکا ولس، د آمریکا نړیوالې پراختیايي اداره له لورید څه د پاسه ۵۰ کلونو راهیسې د نړۍ کودډ کودته بشري او اقتصادي مرستې چمتو کړي دي.